


اوونیزه
# ابادي
هفته‌نامه آبادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۴۶ | مسلسل نمبر: ۸۸

یکشنبه، د رمضان المبارک ۲مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درې میلیاردو افغانیو په ارزښت ۲۷ پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اوبو نړیوال څېړنیز کنفرانس کې ګډون وکړ



۲ مه صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ملي وحدت پیاوړی، خپل فکر او انرژي د هېواد پر ابادۍ او سوکالۍ مصرف کړئ



۳مه صفحه




## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په شپږمه نېټه د اوبو نړیوال څېړنیز کنفرانس کې چې د لویې جرګې په تالار کې جوړ شوی و، ګډون وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یاد کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اوبه د الله تعالی یوازینۍ بې بدیله نعمت دی او له هغه پرته د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو ژوند، د هېوادونو اقتصادي وده او پراختیا امکان نه لري. د اسلام مبارک دین د یوې اسلامي ټولنې په توګه موږ ته له اوبو سره د سم چلند په اړه دیني مکلفیت راجع کوي او له بل لوري له نړۍ سره د سیالۍ، اقتصادي ودې او د راتلونکو نسلونو د حقونو خوندي کولو لپاره د اوبو پایښت لرونکې او مسلکي مدیریت ډېر اړین او ستر ملي مکلفیت ګڼل کېږي.

اوسمهال نه یوازې افغانستان بلکې د نړۍ په کچه د اقلیمي بدلونونو له امله ورځ تر بلې د سطحي او تر ځمکه لاندې اوبو کچه مخ په ټیټېدو ده او نړیوال یې له اندېښنو سره مخ کړي. هر هېواد هڅه کوي چې له خپلو اوبو په سم ډول استفاده وکړي او د اقلیمي بدلونونو له امله د اوبو په برخه کې د رامنځته شویو ستونزو له منځه وړلو له پاره له شته امکاناتو څخه ګټه پورته کړي. د دې هېوادونو له ډلې څخه یو هم افغانستان دی چې په نړیواله کچه د اقلیمي بدلونونو او یا هم د هوا په ککړتیا کې هېڅ ونډه نه لري، خو له دې ناخوالو څخه تر نورو زیات کړېږي. که چیرې د خپلو اوبو په سم ډول مدیریت او ساتنه ګټه ترې پورته کړي، د دې امکان زیات دی چې د اقلیمي بدلونونو څخه د رامنځته شویو زیانونو مخه ډب شي. کله چې خپلې اوبه مهار او مدیریت کړي، نو بیا کولای شي د کرنې د پراختیا او هم د اقتصادي ودې له پاره ګټه ترې پورته کړي. د اسلامي امارت په راتګ سره د اوبو اهمیت ته په کتو په دې برخه کې پوره هلې ځلې شوې او لا هم روانې دي.

د دې له پاره چې د اوبو د لا ښه مدیریت له پاره علمي لارې چارې پیدا شي، نو په همدې موخه د لوړو زده کړو وزارت او کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د اوبو نړیوال څېړنیز کنفرانس جوړ شو. د دې کنفرانس د جوړېدو یوازینۍ موخه په هېواد کې د اوبو له طبیعي زېرمو څخه په سم او سالم ډول د استفادې د لارو چارو موندل دي. که چیرې موږ خپلې اوبه په سم ډول وکار وو، نو د افغانستان میلیونونه هکتاره شاړې دښتې به په کرنیزو ځمکو بدلې، په کافي اندازه بریښنا به تولید او صنعت به وده وکړي. خو مسله داده چې په تیر کې دې برخې ته چندان پاملرنه نه ده شوې او نه د اوبو د سمې استفادې له پاره کوټلي ګامونه پورته شوي دي. خو د اسلامي امارت په راتګ سره د اوبو د مدیریت په برخه کې کار شوی دی. د دې هلو ځلو بیلګې موږ وینو چې ځینې کولای شو دلته یادې کړو، د قوش تیپې ملي کانال، د ځینو سترو بندونو د پاتې چارو پیلبدل، د زابل د عمري او د شاه او عروس بند ګټې اخیستنې ته سپارل او داسې نور. په دې سره موږ کولای شو د کرنې سکتور پیاوړی او په ټوله کې خپل اقتصادي پرمختګ تضمین کړو.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياسـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی

# ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا درې ميلياردو افغانيو په ارزښت ۲۷ پروژې منظورې کړې



د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېســيون د شاوخوا درې ميلياردو افغانيو په ارزښــت د ۲۷ پروژو قراردادونه منظــور او د ۷ نورو يې تعديـل کړل. د ملي تدارکاتو کمېســيون نوبتي غونډې ته چې د ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشتې په اوومه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه، له اجندا سره سم ۳۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له جملې يې د ۲۷ پروژو قراردادونه منظور، د ۷ تعديل، د يـوې لغوه او دوې پـروژې په تدارکاتي پروســو کې د موجودو ستونزو له امله وځنډېدې. د يادو دوو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وســپارل شــوه، څو يې په تدارکاتي پروســه کې د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري راغلي تعديلات په نظر کې ونيسي او راپور يې د دغه کمېسيون له مشرتابه سره شريک کړي.

په منظورو او تعديل شــوو پروژو کې د کابل ښار په ختيځه برخه کــې د ترانســپورټي ترمينل جوړول، په کابل کــې د جمهوريت روغتون د پاتې چارو بشــپړول، د هرات د پاشــدان او د فراه د بخش اباد بندونو د پاتې چارو بشپړول، د غزني ولايت د سلطان بند د ساتنې او پاملرنې پروژې بشپړول، د سرپل ولايت د سلطان ابراهيم بند د تفصيلي ډيزاين پروژې پيل، له کابل څخه کندهار ته د برېښنا پايو درول، سبسټيشونونو جوړول او لين غځولو پروژې بشپړول، له کجکي بند څخه کندهار ښار ته د برېښنا مزي غځولو پروژه، په يوشــمېر نورو ولايتونو کې د برېښنا په برخه کې د شته پروژو د پاتې چارو بشپړول او د کابل ښار يو شمېر داخلي سړکونو جوړول، شامل دي چې د اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اوبو نړيوال ځېړنيز کنفرانس کې ګډون وکړ



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشــتې په شــپږمه نېټه د اوبو نړيــوال ځېړنيز کنفرانس کې چې د لويې جرګې په تالار کې جوړ شوی و، ګډون او وينا وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ياد کنفرانس ته د ځيلو خبرو پــر مهال وويل، اوبه د الله تعالی يوازينی بې بديله نعمت دی او له هغــه پرته د انســانانو، حيواناتو او نباتاتو ژونــد، د هېوادونو اقتصادي وده او پراختيا امکان نه لري. د اســلام مبارک دين د يوې اسلامي ټولنې په توګه موږ ته له اوبو سره د سم چلند په اړه ديني مکلفيت راجع کوي او له بل لوري له نړۍ سره د ســيالۍ، اقتصادي ودې او د راتلونکو نســلونو د حقونو خوندي کولو لپاره د اوبو پايښــت لرونکې او مســلکي مديريت ډېر اړين او ستر ملي مکلفيت ګڼل کېږي.

محترم مــلا صاحب زياته کړه، که څه هــم اوبه نوې کېدونکې طبيعــي سرچينه ده، خو بيا هم په اوســنۍ نــړۍ کې د اقليمي بدلونونو، د اوبو ککړتيا کچې لوړېدو، د انسانانو زياتېدونکو اړتياوو او له اوبو سره د انسانانو د ناسم چلند له امله په جدي توګه د دغه ارزښــت کمښــت حس کېږي او په مسلســله توګه په کمبدو په حال کې دي. دي ناورين د هېوادونو پر خپل منځي او نړيوالو ســياسي او اقتصادي اړيکو هم منفي اغېزه کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل:« افغانستان د اوبو پراخې طبيعي سرچينې او زېرمې لري، خو له بده مرغه د هېواد په معاصر تاريخ کې له دغه ســتر نعمت سره د بې‌لابېلــو عواملو له امله مسلکي او ملي چلند نه دی شوی. نو په دې اساس اوس زموږ او ستاسې ګډ مسووليت دی چې له هرې ممکنې لارې او امکاناتو څخه په اســتفادې د اوبو د غوره مديريت لپاره اســاسي ګامونه واخلــو. » د محترم ملا صاحب په خبره، په همدې موخه د خپل حق له اوبو د ښــې اســتفادې او مديريت په موخه د افغانستان اسلامي امارت هڅې کوي چې يوه بېلګه يې د قوش تېپې کانال کيندل او د ځينو نورو بندونو تړل او رغول دي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په پای کې د اوبو د غوره

مدیریت په برخه کې نننی کنفرانس او دلته د پوهنتونونو د استادانو او اوبو برخې متخصصینو له لوري د څېړنیزو مقالو او تجربو شریکول مهم وبلل او هغوی ته یې د لا زیاتو او دقیقو څېړنو ترسره کولو سپارښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې د اوبو نړیوال څېړنیز کنفرانس د لوړو زده کړو وزارت او کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري په هېواد کې د اوبو غوره مدیریت، تر ځمکې لاندې اوبو سرچینو د تغذیې، د اوبو د سالمې استفادې او ککړتیا د مخنیوي په موخه د درېیو ورځو لپاره جوړ شوی و. یاد کنفرانس ته د امارتي ادارو یوشمېر مسوولین، د بهرنیو معتبرو پوهنتونونو استادان، د نړیوالو سازمانونو استازي او د اوبو مدیریت برخې کورني او نړیوال څېړونکي او متخصصین رابلل شوي چې ۱۳۵ څېړنیزې مقالې پکې شریکې شوې.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ملي وحدت پیاوړی، خپل فکر او انرژي د هېواد پر ابادۍ او سوکالۍ مصرف کړئ



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په نهمه نېټه د لویې جرګې په تالار کې په هېواد کې د ملي وحدت ساتنې او له اسلامي نظام څخه د ملاتړ تر عنوان لاندې د اهل تشیع عالي کمېسیون له لوري په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، افغان ملت د مختلفو قومونو، ژبو، مذهبونو او فرهنګونو څخه تشکیل شوی او دا تنوع یوازې د یو او بل د پېژندنې لپاره ده؛ خو له بدمرغه د اسلامي امارت له حاکمیت وړاندې له دې تنوع هر وخت غلطه استفاده شوې ده.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، «افغان ملت په ناسالمه توګه په سیاسي احزابو ویشل شوی چې دې کار په مهمو ملي موضوعاتو کې د افغانانو اتحاد له منځه وړی او له همدې وجې موږ تر اوسه معنادار ملي اتحاد نه دی تجربه کړی.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، ټولو افغانانو د متجاوزینو په مقابل کې یو ځای مبارزه او جهاد کړی، د اسلام مبارک دین د ارشاداتو او د هېواد د لویو موخو په ترلاسه کولو کې یې فعاله ونډه اخیستې او د اسلامي امارت اوسنی حاکمیت د ټولو افغانانو د قربانیو پایله ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد د سیاسي او اقتصادي پرمختګ لپاره د ملي وحدت ساتنه مهمه وبلله او زیاته یې کړه، هغو ملتونو چې خپل منځي اتحاد او یووالی ساتلی، په ډېره اسانۍ لویو موخو ته رسېدلي دي. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور او له یو شان حقوقو څخه برخمن دي، دلته د اقلیت، قومیت او مذهب پر اساس بې معنا توپیرونه نشته، اسلامي امارت د افغانستان د قومونو تنوع ته د ملي وحدت د سمبولونو په سترګه ګوري او د ملي وحدت پر سالمه ساتنه ټینګار کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو هېوادوالو وغوښتل چې د هېواد او نظام د دښمنانو په تبلیغاتو باور ونه کړي، ځکه هغوی د سني او شیعه ترمنځ د تفرقې اچولو لپاره منفي پروپاګند کوي او له دې څخه یوازې د خپلو شومو موخو لپاره استفاده کوي.

محترم ملا صاحب ټولو هېوادوالو ته د داد ورکړ چې اسلامي امارت ستاسي نظام دی. دا نظام د هر افغان له مال، عزت، وینې او ناموس څخه کلکه دفاع کوي او دا کار خپل مسلم مکلفیت او مسوولیت ګڼي. پکار ده چې خپل منځي اتحاد او یووالی وساتو، له ټولو اختلافاتو تېر شو او خپل فکر او انرژي د هېواد پر ابادۍ او سوکالۍ مصرف کړو.

په دې غونډه کې چې د اهل تشیع عالي کمېسیون له لوري په هېواد کې د ملي وحدت ساتلو او له اسلامي نظام څخه د ملاتړ په موخه د لویې جرګې په تالار کې جوړه شوې وه، د هېواد د بېلابېلو قشرونو استازو، قومي مخورو، علماوو او ځوانانو پکې ګډون کړی وو او ویناوالو له اسلامي نظام څخه خپل ملاتړ څرګند او د ملي وحدت پر ساتنه یې ټینګار وکړ.

اوونیزه
اباډي
هفته‌نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# اخبـــار اقتصـــادی هفتـــه

## تاکیـــد مقام‌های ســـپین‌بولدک بر حمایت از سرمایه‌گذاران

مقام‌های محلی ولسوالی سپین‌بولدک ولایت قندهار می‌گویند که برای تسهیل سرمایه‌گذاری و حمایت از تاجران، اقدام‌های بیش‌تری را روی دســت گرفته اند. به گفته‌ی آنان، برخلاف گذشــته که سرمایه از کشور خارج می‌شد، اکنون سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی به هدف سرمایه‌گذاری به افغانســتان می‌آیند. در جریان نشســت حساب دهی شــهرداری ســپین بولدک، مقام‌های محلی حمایت از تاجران و گسترش فرصت‌های سرمایه‌گذاری در این ولسوالی سخن گفتند. رحیم‌الله محمود ولســوال سپین بولدک اظهار داشت: «در حال حاضر، سرمایه‌گذاران از کشــورهای مختلف به افغانســتان می‌آیند و در اینجا سرمایه گذاری می‌کنند. اکنون زمانی نیســت که سرمایه‌گذاران کشــور را ترک کنند، بلکه باید در اینجا سرمایه‌گذاری کنند. پاکستان فقط سرمایه‌گذاران ما را فریب می‌دهد و سرمایه‌های آن‌ها را غصب می‌کند.» لطف‌الله لطیفی شــهردار سپین بولــدک نیز گفت: «ما از تاجران و سرمایه‌گــذاران حمایت می‌کنیم. در بخش های مختلف برای آن‌ها تســهیلات فراهم می‌کنیم و حتی بر اساس صلاحیت هــای محلی، در مالیات بــا آن‌ها همکاری داریم.» با این حال، شــماری از تاجران در ســپین‌بولدک ادعا می‌کنند که پاکستان در تلاش است تا تجارت در این ولسوالی را متضرر کند و بارها از آن‌ها خواسته که سرمایه‌های‌شان را به آن سوی خط فرضی دیورند منتقل کنند.

## برگزاری نمایشگاه کتاب در کابل

بــه پیش‌واز از ماه مبارک رمضان، کتب بیهقــی و وزارت اطلاعات و فرهنگ نمایش‌گاه یک هفته‌ای کتاب در کابل برگزار کرده‌اند. در این نمایشــگاه بیش از ده‌هزار جلد کتاب که از ســوی بیش از صد ناشر به چاپ رسیده‌اند، به نمایش گذاشته شده است. شماری از نــاشران راه‌اندازی نمایش‌گاه کتاب را در راســتای رونق گرفــتن بازار فروش کتاب، ســودمند می‌دانند. غوث‌الدین کــمال، برگزارکننده نمایش‌گاه به رســانه ها گفته وزارت اطلاعات و فرهنگ، ریاســت انتشارات کتب بیهقی و جمعی از ناشران این نمایش‌گاه را برای یک هفته به پیش‌واز از ماه مبارک رمضان برگزار کرده اســت.
گفتنی‌ســت که این نمایش‌گاه روز پنج‌شنبه هفته گذشته آغاز شده و قرار است تا پنج روز دیگر به‌روی بازدیدکنندگان باز باشــد. شــماری از ناشران که در این نمایشگاه اشتراک کرده می‌گویند در این چند روز شــماری زیادی کتاب ها را به فروش رسانده است.



## روند انتقال زمین برای ایجاد پارک‌های صنعتی جریان دارد

وزارت زراعت، آبیــاری و مالداری مــی گوید که روند انتقال زمین به وزارت صنعت و تجارت برای ایجاد پارک هــای صنعتــی در ۱۶ ولایت افغانســتان در حال اجرا است. مصباح‌الدین مستعین سخن‌گوی این وزارت می گوید که بر اساس فرمان امیرالمؤمنین حفظه الله، در هر ولایت کشــور یک‌هزار جریب زمیــن برای ایجاد پارک های صنعتی اختصاص داده شده است.

او گفتــه تاکنون این روند در ۱۶ ولایت کشــور جریان دارد، اما هنوز تکمیل نشــده ، زیــرا طی مراحل قانونی نیاز به زمان دارد. در آینده نزدیک، این روند در ســایر ولایت‌ها نیز آغاز خواهد شد.

وزارت صنعــت و تجارت قبلا به رســانه‌ها گفته بود که ۱۶۰ هزار جریب زمین برای ایجاد پارک‌های صنعتی در سراسر کشــور اختصاص داده شــده اســت. به گفته مســوولان، برای ســاخت پارک‌های صنعتی ۱۰ هزار جریــب زمین در کندز ۲۰ هزار جریــب زمین در ولایت های قندهــار، ننگرهار و بلخ، ۸ هــزار جریب زمین در چهار زون کابل و هــزار جریب زمین برای ولایت‌های دیگر در نظر گرفته شده است.

رهــبر امارت اســلامی پیش از این قانون ســاحات صنعتی را نیز توشیح کرده بود. این قانون به هدف رشد اقتصاد افغانســتان، تنظیــم ســاحات صنعتی، جلب سرمایه‌گذاری خصوصی و مدیریت و حفظ این ساحات منظور شده است.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياسـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباديٓ
هفته‌نامـه آبـادی



# د افغانستان د کار بازار
## او د بې‌کارۍ کچې کمولو په برخه کې د اسلامي امارت هڅو ته کتنه

قيس احمد

### سريزه

د افغانستان اســلامي امارت د يوه مسوول او حاکم نظام په توګه په خپل ټول توان او د موجودو امکاناتو په صورت کې په پوره جديت سره هڅه کوي چې په هېواد کې د بې‌کارۍ کچه راټيټــه کړي. په همــدې موخه يې ټول هغــه مهم ګامونه اخيســتي چې د بې‌کارۍ کچې کمولو او کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې اساسي رول لوبوي.

له دې ګامونو مهم هغه يې د ټول هېواد په کچه د سرتاسري امنيت تأمين، د فساد له منځه وړل، په مختلفو سکټورونو کې پانګونې ته زمينه برابرول، د صنعت او ســوداګرۍ پراختيا، د زېربناوو جوړول او بيارغونه او همدا راز د لويو اقتصادي پروژو پيل دي.

په پورته ذکر شــوو سکټورونو کې د عملي چارو په پيل سره اوسمهال د هېواد په کچه د کار بازار د پخوا په پرتله ډېر ښه شوی چې په دې مقاله کې پرې لنډې خبرې کوو.

### د افغانستان د کار بازار

واک ته د اسلامي امارت په رســېدو سره په ټول هېواد کې سرتاسري امنيت تأمين او فســاد ختم شو. د کار د اصولو له مخې امنيت او فساد دوه هغه لاملونه  دي چې د کار پر بازار مستقيمه اغېزه کوي. خو اوسمهال د افغانستان د کار بازار له امنيت څخه برخمن او له هر ډول فســاده پاک دی. د هېواد په هره ســيمه کې کارګر او فني کارکوونکي په ارام ذهن او فکر سره کار کوي. اســلامي امارت د فساد پر وړاندې جدي مبارزه کړې ده.

پر دې سربېره اســلامي امارت د هېــواد په کچه په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې ښــه فرصتونه رامنځته کړي. ټول کورني او بهرني پانګوال کولای شي د پانګونې اسانه قوانينو، د پانګونــې خوندي چاپېريــال او ټيټو مالياتــو له موجودو فرصتونو څخه په اســتفادې د صنعت، ســوداګرۍ، کرنې، ترانسپورټ، روغتيا، برېښــنايي حکومتولۍ، زېربناوو او دېته ورته نورو مهمو اقتصادي برخو کې پانګونه وکړي. اســلامي امارت د ټولو پانګوالو لپاره د پانګونې دروازې پرانيستې دي او د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

افغانســتان د نړۍ يو له هغو هېوادونو څخه دی چې پراخ او قيمتــي کانونه او تر ځمکه لاندې طبيعي زېرمې لري. د دې کانونو او زېرمو ډېرى برخه تراوسه نه ده سپړل شوې. دا د ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو لپاره يو ښه فرصت دی چې د کانونو او طبيعي زېرمو په برخه کې پانګونه وکړي.

افغانستان د جغرافيوي موقعيت له مخې د مرکزي او جنوبي اسيا هېوادونو ترمنځ پروت دی. له دې موقعيته په استفادې کولای شي د جنوبي او مرکزي اسيا هېوادونو ترمنځ د وصل کوونکــي رول ولوبــوي چې لــه مخې به يې هــم د خپلې ســوداګرۍ کچه پراختيا ومومي او هم به د افغانســتان له خاورې د يادو هېوادونــو د ترانزيټ کچه زياته شي. له دې ورهاخوا افغانستان په سيمه‌ييزو لويو اقتصادي پروژو کې هم مهم او اساسي رول لري چې د تطبيق لپاره يې اوسمهال تر ټولو ښه زمينه برابره شوې ده. په افغانستان کې اوسمهال يو اسلامي او په خپلو ټولو چارو کې خپلواک نظام حاکم دی چې د خپلــو ديني ارزښــتونو او ملي ګټو په پام کــې نيولو سره خپلواک تصميم نيولی شي.

همدا راز اسلامي امارت د کار لپاره مناسب قوانين او پاليسۍ رامنځتــه کړي دي. دا قوانين د کارګــرو حقونه او امتيازونه خوندي کوي. افغانســتان د کار لپاره بې شــمېره بشري قوه لري. د کار بازار کې کارګر د توليد د پروسې يو مهم رکن ګڼل کيږي. افغانستان د کافي کاري ځواک څخه برخمن دی چې کولی شي د شرکتونو عايد زيات کړي. اوسمهال د ټولو مهمو فرصتونو د موجوديت په صورت کې د لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله روزنيزو پروګرامونو له مخې د بشري قوې د مهارتونو د لوړولو ملاتړ هم کيږي.

پورته ذکر شوو فرصتونو ته په کتو سره ويلی شو چې اوسمهال د افغانستان د کار بازار تر ټولو په ښه وضعيت کې دی.

### د بې‌کارۍ کچې راټيټولو په برخه کې د اسلامي امارت ترسره شوې هڅې

د بې‌کارۍ ســتونزه د نړۍ په ټولو هېوادونو کې شته او دا د حکومتونو مســووليت دی چې د دې ســتونزې د حل لپاره لاس په کار شي. په افغانســتان کې هم دا ســتونزه شته. اسلامي امارت دا ستونزه درک کړې او د حل لپاره يې د تېرو څه باندې دريو کلونو پر مهال اساسي ګامونه اخيستي چې مهمو ته يې په لاندې ډول اشاره کوو:

**د پانګونې پراخ او خوندي چاپېريال:** اســلامي امارت په هېواد کې د پانګونې په موخه تر ټولو اســانه شرايط، ټيټ ماليات، ارزانه او د ســيالۍ وړ بازار، د پانګونې لپاره معلوم ادرس، د پانګوالــو پــر وړانــدې په امــارتي ادارو کې د بيروکراسۍ له منځه وړل او ډېر نور سهولتونه رامنځته کړي دي. همدې ته په کتو اوســمهال کورني او بهرني پانګوال کولی شي پــه هېواد کــې د کانونو، ترانســپورټ، کرنې، مخابراتو، برېښنايي حکومتولۍ، روغتيا، زېربناوو، صنعت، سوداګرۍ او نورو برخو کې پانګونه وکړي.

د تېــرو دريو کلونو پر مهال په يــادو برخو کې د کورنيو او بهرنيو شرکتونو له لوري پانګونه شــوې هم ده. ښې بېلګې يې د هرات ولايت د غوريانو ولسوالۍ د اوسپنې کان څلورو بلاکونو، د غور ولايت د تولک ولســوالۍ د سرب او جست کان دريو بلاکونو، د غور ولايت د شهرک ولسوالۍ د سرب

او جستو کان دربيم بلاک، د تخار سمتي سرو زرو کان، د هرات ولايت د پشتون زرغون ولسوالۍ د اوسپنې کان، د کابل ولايت د جګدلک سيمې د ياقوتو کان، د هرات ولايت د زنده‌جان ولسوالۍ د سيمنټو پروژه، د کندهار ولايت د شوراندام ولسوالۍ د سيمنټو پروژه، د پروان ولايت د جبل السراج ولسوالۍ د سيمنټو پروژه او د بغلان ولايت د دوشي ولسوالۍ د قره زغن ساحې د سرو زرو کان په شمول په يوشمير نورو ستر مقياس کانونو کې ۴۱۴ ميليارده افغانۍ پانګونې شوې ده. له دې ورهاخوا د امو دريا نفتي حوزې د نفتو په استخراج، د فارياب ولايت د طوطي ميدان ګازو اکتشاف او استخراج، د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د ډبرو سکرو، قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو او همدا راز لسګونو کوچنيو او متوسطو کانونو کې پانګونه شوې ده.

په پورته ذکر شوو لوی مقياس او کوچني مقياس کانونو کې په لسګونو زرو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شوې ده، چې همدلته د کار او مزد له لارې د ژوند ورځنۍ اړتياوې په ښه ډول پوره کوي.

**د زېربناوو بيارغونه او اساسي جوړول:** د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې د پياوړتيا او د بې کارۍ کچې کمولو په موخه د زېربناوو بيارغونې او اساسي جوړونې ته پام کړی دی. د تېرو څه باندې دريبو کلونو پر مهال اسلامي امارت د هېواد په کچه لويې زېربنايي پروژې پيل کړې دي چې ښې بېلګې يې د کابل – کندهار لويې لارې، سالنګونو، هرات – غور، کندهار – اروزګان، کابل – جلال آباد دويم لين سړک، د کابل – غزني دويم لين سړک، د ډېريو ولايتونو لرې پرتو ولسواليو او سيمو ته د غځېدلو سړکونو اساسي جوړول او بيارغونه؛ کجکي، کمال خان، بخش آباد، پاشدان، عمري، شاه و عروس، چک وردګ، پارنده پنجشير، پلتوني او يوشمېر نورو بندونو د پاتې چارو پيل او د ځينو يې ګټې اخيستنې ته سپارل؛ د يوشمېر لويو او مهمو امارتي شرکتونو او تصديو بيارغونه؛ د هوايي ډګرونو بيارغول؛ د اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لورې د سلګونو توليدي کارخونو فعاليدل دي.

په پورته ذکر شوو زېربنايي پروژو کې لسګونو زرو هېوادوالو ته نوي کاري فرصتونه برابر شوي دي.

**د سوداګرۍ پراختيا:** اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او هېوادوالو ته د کاري زمينې د برابرولو په موخه د سوداګرۍ پراختيا ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. په همدې موخه يې تولو اصنافو او کسبګرو ته اضافي ماليات معاف کړي او د ثابتو مالياتو اندازه يې هم د پام وړ ټيټې کچې ته را رسولې ده. د سوداګرۍ د پراختيا په موخه ځانګړې صادراتي زونونه د جوړېدو په حال کې دي، په تولو ولايتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو هڅې روانې دي، په تولو سوداګريزو بندرونو کې د پام وړ اسانتياوې رامنځته شوې دي، د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د دوه اړخيزو سوداګريزو اړيکو په پراخولو کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي، د افغانستان صادراتو ته د ګڼو هېوادونو له لورې ترجيحي تعرفې ورکړل شوې دي او په مجموع کې د هېواد د کورنيو توليداتو لپاره په کور دننه او بهر کې ښه بازارموندنه ترسره شوې، چې په پايله کې يې د پخوا په پرتله د هېواد د سوداګرۍ کچه د پام وړ زياته شوې ده.

د سوداګريزو فعاليتونو د زياتېدو په صورت کې زرګونو هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول نوي کاري فرصتونه برابر شوي دي. پر دې تولو سربېره په امارتي تشکيلاتو کې هم د پام وړ زياتوالی راغلی او ډېرو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي دي.

## پايله:

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او هېوادوالو ته د کاري زمينې برابربدو په موخه کوټلي او اساسي ګامونه اخيستي دي. په همدې موخه يې په تول هېواد کې د پانګونې بې ساري فرصتونه رامنځته کړي او د سلګونو ميلياردو افغانيو په ارزښت کورنۍ او بهرنۍ پانګونه يې جلب او جذب کړې ده. همدارنګه يې د هېواد د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو رامنځته کولو په موخه لويې زېربنايي پروژې پيل کړې دي. د بې‌کارۍ کچې کمولو په موخه سوداګرۍ ته هم ځانګړې پاملرنه شوې ده چې د پخوا په پرتله يې کچه د پام وړ زياته شوې ده.

په مجموع کې ويلی شو چې اسلامي امارت په هېواد کې د بې‌کارۍ کچې کمولو لپاره ډېر هڅې پيل کړې دي چې له مخې يې يو زيات شمير هېوادوالو ته کاري زمينه برابره او د ژوند کچه يې ورسره ښه شوې ده.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۲,۹۵ | ؋۷۳,۰۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۵۱ | ؋۲۵۱ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۳۲ | ؋۱,۳۳ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۵,۸۹ | ؋۷۵,۹۴ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۸۲ | ؋۰,۸۲ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۳٤ | ؋۸۳۵ |
| ۱ | انګليسي پوند | ؋۹۱,۸۶ | ؋۹۱,۹۳ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۹,٤٦ | ؋۱۹,٤۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۸۶ | ؋۱۹,۸۸ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱۰,۰۲ | ؋۱۰,۰۲ |



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياسـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي
هفته‌نامه آبادی

# SPEECH OF
## MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND,
THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS,

## AT THE MEETING WITH THE PRIME MINISTER OF UZBEKISTAN



In the Name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful

Your Excellency, Prime Minister of the Republic of Uzbekistan, Mr. Abdullah Aripov, and all esteemed participants of this meeting,

Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you!

First and foremost, I extend my gratitude to the Prime Minister of Uzbekistan for the warm invitation and hospitality, which I consider a clear sign of mutual trust and strong cooperation between our two neighboring and friend countries.

The foreign policy of the Islamic Emirate is based on the principles of neutrality and non-interference in the affairs of neighboring, regional, and global countries. We also expect other nations to adhere to these principles in their relations with Afghanistan.

The Republic of Uzbekistan has taken a positive stance on Afghanistan in the international arena. The Islamic Emirate appreciates the constructive and realistic approach of His Excellency President Shavkat Mirziyoyev of Uzbekistan. As a neighboring brotherly country, Uzbekistan holds a special place in the hearts of Afghans due to the deep religious, cultural, ethnic, and linguistic ties that have historically brought our two nations closer.

The Afghan and Uzbek nations share a common history and Islamic heritage. Regions such as Bukhara and Samarkand have been recognized as centers of Islamic civilization, and Afghans have greatly benefited from the knowledge and wisdom of renowned scholars like Imam Bukhari and Imam Tirmidhi.

The foreign policy of the Islamic Emirate is independent, positive, neutral, balanced, and economy-oriented. We seek good relations with all countries, particularly with our neighbors. Accordingly, the Islamic Emirate of Afghanistan desires to establish deeper and more meaningful engagement with the Republic of Uzbekistan.

The Islamic Emirate has taken firm steps in the fight against the cultivation, production, consumption, and trafficking of narcotics. We have banned their cultivation and production and have actively prevented their smuggling into neighboring countries. We assure all our neighboring, regional, and international partners that Afghan soil will not be used against any country and that no threats will emanate from Afghanistan toward any nation.

The Islamic Emirate of Afghanistan invites the friend and neighboring country of Uzbekistan to invest in various sectors of Afghanistan, including transportation, energy, agriculture, mining, railways, and industrial production. We encourage the Uzbek government to facilitate and motivate Uzbek investors to expand their economic activities and investments in Afghanistan based on mutual interests.

The expansion of railways and road networks between Uzbekistan and Afghanistan has been a significant and fundamental topic. The Mazar-e-Sharif – Herat railway project, extending further to Kandahar, which connects Uzbekistan with Iran and China, is of vital importance to both countries. The Islamic Emirate invites its neighboring and friend country, Uzbekistan, to invest in this project, which will enable Uzbekistan to expand its bilateral trade with South Asian countries, Iran, and China, playing a crucial role in regional stability and development.

Additionally, we call upon our friend nation, Uzbekistan, to invest in the second tunnel of the Salang Highway, which serves as a key transit route connecting Central Asia with South Asia. The Islamic Emirate welcomes such investment and is fully prepared to cooperate in this regard.

The Islamic Emirate of Afghanistan assures its full cooperation in all mutual endeavors. Moreover, both sides should explore new initiatives and projects that will contribute to the development of strategic infrastructure, joint trade, transit, regional affairs, and economic relations between the two countries.

Furthermore, Your Excellency, I hope that the agreements and discussions from your recent visit to Kabul, on which work has been carried out and agreements have been signed, will be implemented as soon as possible. In this regard, the joint technical teams of both countries should work closely together.

In conclusion, I would like to reiterate that the Islamic Emirate of Afghanistan remains committed to all security, economic, and cultural relations with the Republic of Uzbekistan and is eager to expand friendly ties between the two nations.

Thank you for your attention.